**مطبوعاتي اعلاميه**

**د «امریکا – افغان مشورتي میکانېزم» د غرب د فرهنګي او استخباراتي یرغل لپاره یوه بله لار!**

د امریکا متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلینکن د افغانستان د ښځو او بشري حقونو په چارو کې د دغه هېواد د استازې رینا امیري په همکارۍ د جولای په ۲۸مه د امریکا – افغان مشورتي میکانېزم پرانیست. دا داسې ګام دی چې امریکایي چارواکو ته به وړتیا ورکړي ترڅو د افغانستان له ښځو او مدني ټولنې سره ډېره همغږي وکړي. بلینکن د خپلو خبرو په یوه برخه کې وویل: «هغه کار چې موږ غواړو ترسره یې کړو دا دی چې د افغانستان له مدني ټولنې سره خپله همکاري اغېزناکه، رغنده او موخنه کړو او د دغه نوښت موخه همدا ده».

**د حزب‌التحریر – ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر په دې اړه د څو ټکو بیانول اړین ګڼي:**

**لومړی:** له «مستقیم اشغال» او «سخت ځواک» امریکا له افغانستانه ووته؛ خو له استعمار څخه یې لاس نه دی اخیستی، بلکې له «نرم ځواک» له لارې د خپل نفوذ او قدرت د تحمیلولو په هڅه کې ده. امریکا «څخه تر لاس اخیستو وروسته پر افغانستان د په افغانستان کې له نظامي ماتې وروسته اوس غواړي د اقتصادي بندیزونو، رسنیزو فشارونو او سیاسي ګواښونو په ذریعه اسلامي امارت له خپل اسلامي دریځ څخه راښکته او منحرف کړي او همدارنګه غواړي چې په دې خاوره کې د نړیوالو سازمانونو، مرستندویه بنسټونو او مدني ټولنې په وسیله بیا نفوذ وکړي او له دې لارې غربي ارزښتونه ټولنې ته رانناباسي او حتی د دغو بنسټونو له ادرسه استخباراتي فعالیتونه وکړي. امریکا له مخکې هم په دا ډول فعالیتونو کې پوره تجربه لري، چې څنګه خپل رقیبان د مدني او استخباراتي بنسټونو په وسیله کمزوري کړي او له پښو یې وغورځوي.

**دویم:** مدني کله چې بلینکن د مدني ټولنې خبره کوي، موخه یې په حقیقت کې د سیکولریزم عقیده او غربي ارزښتونه دي. مدني ټولنه یو غربي مفهوم دی چې له ژونده د دین د بېلتون پر مفکوره ولاړ دی. مدني بنسټونه ټل د غربي ارزښتونو د رواجولو او دفاع وسایل پاتې شوي، لکه څنګه یې چې د جمهوریت په۲۰ کلونو کې د رسنیو، ډیموکراتیکو ګوندونو، ټولنو، څېړنیزو تر نامه لاندې د مدني بنسټونو له لارې غربي ارزښتونه لکه ازادي، بشري حقونه، د ښځو حقونه او نور دود ... بنسټونو او کړل. بلینکن په خپله وینا کې دا ډول ارزښتونه ستره لاسته راوړنه وګڼله. آن تر دې چې دغه ارزښتونه او د مدني ټولنې فعالیتونه د دې لامل شول چې حتی «همجنسپال د یوې ټولنې د جوړولو لپاره لارې چارې ومومي!» خو د امارت راتګ دا هر څه چې دوی ۲۰ کلنې لاسته راوړنې؛ بشري او د ښځو حقونه ګڼل، ګډوډ کړل.

**دریم:** اسلامي امارت باید پوه شي چې غربي قدرتونه، نړیوال سازمانونه او مدني ټولنه د سیکولریزم پر اساس ولاړ بنسټونه او فرهنګي او استخباراتي وسایل دي چې د سترو قدرتونو د ګټو لپاره کارول کېږي. له اوسنی نړۍ او د هغې له بنسټونو سره تعامل په حقیقت کې د سیکولریزم له عقیدې سره تعامل دی. سیکولریزم د اوسنی نړۍ سره کربښه ده او غربي قدرتونه په ټوله نړۍ کې د خپلې دغې عقیدې دفاع او ساتنه کوي. په داسې حال کې چې مسلمانان هم خپله سره کربښه لري، چې نن څوک په نړیواله کچه د هغې د بیانولو، دفاع او ساتنې جرئت نه لري. د مسلمانانو سره کربښه اسلام او په کورني او بهرني سیاست کې د هغه بشپړ تطبیق دی.

خو د دې سرې کربښې ساتنه د واحد خلافت دولت له تاسیس پرته ناشوني ده؛ چې په وسیله یې اسلام پلی شي، د دښمن فرهنګي او استخباراتي بنسټونه خنثی شي، مسلمانان د یوه ستر امت او اسلام د نړیوال معیار په توګه یو ځل بیا د نړیوال قدرت او نړیوالو اړیکو په ډګر کې راڅرګند شي.

[النساء: ۱٤٤]**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِن دُونِ الْمُؤْمِنِينَ أَتُرِيدُونَ أَن تَجْعَلُوا لِلَّهِ عَلَيْكُمْ سُلْطَانًا مُّبِينًا﴾**

*اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی! کافران د مسلمانانو پر ځای په دوستۍ مه نیسئ. ایا [په دغه کار سره] غواړئ له الله سره د خپل ځان پر ضد ښکاره دلیل پرېږدئ.*

**د حزب‌التحریر ـ ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**